# خدای بخښلی استاد ژواک چي ما پیژانده

زما او د خدای بخښلي ژواک تر منځ له هر اړخه زیات توپیر وو ، هغه مهال چي مو مخامخ پیژندګلوي وسوه ، هغه مشر او زه کشر ، هغه استاد او زه مبتدي ، هغه نوموتی لیکوال او زه لوستونکی ، او په دې ډول زیات توپیرونه وه ، خو د دې ټولو سره – سره هغه مرحوم به پر ما د نیوکو او یا لارښونو پر مهال داسي چال چلند کاوه چي ته وا ، زما ملګری او یا همزولی دی . په کلتوري هڅو کي زما داسي لارښود وو چي هم یې زما تیروتني را ته په نښه کولې او هم یې د سمون لاري چاري راښودلې . دهغه سره د هري ناستي او مجلسه مي هم خوند اخستی او هم مي زده کړه کول .
موږ به د سلام ملي جریدې په کار خونه کي سره لیدل ، هغه ورځ چي به خدای بخښلی ژواک صاحیب زموږ دفتر ته راغی ، د نورو خپلواکو جریدو او مجلو مسولین او اړوندانو به هم د ادبي بانډار لپاره رامات شول ، د(( یا حق )) جریدې مسول ښاغلی محسني ، د پلوشې جریدې مشر ښاغلی شازمان اوریځ ، د شوخک طنزي مجلي مشر ښاغلی عزیز مختار ، د ازادی جرېدې مشر سخي غیرت او نور به د مرحوم ژواک سره دځه ویلو او یا ځه اوریدلو لېوال وه . د استاد د شتون له برکته به د ادبي نثر او شعري نړۍ په اړه د خبرو او ویناو داسي محفل به جوړوو چي هر لیدونکي به د یوه ادبي کنفرانس او علمي ادبي غونډې خیال کاوه.
هغه مهال چي زه یې تاسو ته د خاطرو په توګه یادوم ، په افغانستان کي د ازادو او خپلواکو خپرونو هغه لړۍ پیل شوې وه چي د زیاتو څېړونکو په اند په هیواد کي د د مکراسۍ د لسیزي دوام ګڼل کیږي. د دموکراسۍ د لسیزې پر مهال ( ۱۳٤۳ لمریز کال ) زموږ په هیواد کي د ازادو مطبوعاتو او خپلواکو خپرونو لومړۍ پړاو پیل شو ، هغه مهال د هیواد یو شمیر روڼ اندو د خپل وخت د اساسي قانون په رڼا کي سیاسي ، ټولنیزې او خپلواکي خپروني پیل کړې د بیلګي په توګه د مولانا خسته تر مشرۍ لاندې د وحدت جریده ، د علامه رشاد تر مشرۍ لاندې د مساوات ، د مرحوم کشککي تر مشرۍ لاندې د کاروان ، د دکتور نوین تر مشرۍ لاندې د ترجمان جرېده او همدا شان د خلق ، پرچم ، شعله جاوید ګهیځ او نوري خپروني یادولای شو. چي زموږ د هېواد په تاریخ کي ځانګړې باب ګڼل کیږي. ( دلته زما سره د هغه مهال د خپلواکو او سیاسي خپرونو د نومونو لیک لړ سته چي ګرانو حاضرینو ته یې په لنیه توګه د خپروني نوم او دمسولینو نومونه را یادوم:

په افغانستان کي د خپلواکو خپرونو لیکلړ د ۱۹٦٦ زیږد کال څخه تر ۱۹۷۱ زیږد کال پوري

| د خپروني نوم | د امتیاز خاوند | مسؤل مدیر | د خپریدو کال |
|---|---|---|---|
| وحدت | مولانا خسته | مولانا خسته | ۳ جنوری ۱۹٦٦ میلادي |
| پیام امروز | غلام نبي ناصر | عبدالروف ترکمن | فبروری ۱۹٦٦ میلادي |
| افغان ملت | غلامحمد فرهاد | قدرت الله حداد | ۱۰ اپریل ۱۹٦٦ میلادي |
| خلق | نورمحمد تره کي | بارق شفیعی | ۱۱ اپریل ۱۹٦٦ میلادي |
| مردم | سید مقدس نګاه | غلام محي الدین تفویض | ۱۱ مۍ ۱۹٦٦ میلادي |

| ۲ | | | |
|---|---|---|---|
| مساوات | عبدالشکور رشاد | محمد رحیم الهام | ۲٦ جون ۱۹٦٦ میلادي |
| پیام وجدان | عبدالروف ترکمن | عبدالروف ترکمن | ۲٤ مارچ ۱۹٦۸ میلادي |
| پرچم | سلیمان لایق | سلیمان لایق | ۱٤ مارچ ۱۹٦۸ میلادي |
| صدای عوام | عبدالکریم فروزان | عارف صنفي | ۲۷ مارچ ۱۹٦۸ میلادي |
| شعله جاوید | رحیم محمودي | محمودی | ۱٤ اپریل ۱۹٦۸ میلادی |
| ترجمان | دکتور نوین | علی اصغر شیر | ۱۸ اپریل ۱۹٦۸ میلادی |
| صبا | غلام نبی خاطر | خاطر | ۸ می ۱۹٦۸ میلادی |
| کمک | محمد یعقوب کمک | کمک | ۱۱ اگست ۱۹٦۸ میلادی |
| کاروان | صباح الدین کشککی | عبدالحق واله | ۲٤ سپتمبر ۱۹٦۸ میلادی |
| خیبر | محب الرحمن هوسا | هوسا | ۱۰ اکتوبر ۱۹٦۸ میلادی |
| گهیځ | منهاج الدین گهیځ | گهیځ | ۱۳ اکتوبر ۱۹٦۸ میلادی |
| پروانه | امان الله پروانه | پروانه | ۲ دسمبر ۱۹٦۸ میلادی |
| هدف | غلام محمد اورمل | محمد رحیم مهربان | ۱۱ دسمبر ۱۹٦۸ میلادی |
| جبهه ملی | عبدالرب اخلاق | | |

زموږ په هېواد کي د ازادو مطبوعاتو او خپلواکو خپرونو دوهم پړاو د اکتر نجیب الله د واکمنۍ پر مهال پیل شو ، دا ځل بیا یو شمیر هېواد پالو د هغه وخت د اساسي قانون تر چتر لاندي د خپلواکو خپرونو چاري پیل کړې . په دې پړاو کي د وطن د واکمن گوند د خپرونو تر څنگ یو شمیر ځانگړو سیاسي گوندونو هم خپروني درلودې ، چي د سیاسي موخو لپاره گمارل کېدې ، خو بل خوا داسي خپلواکي خپروني هم وې چي د وخت واکمن حاکمیت ته یې د نیوکو ، سیاسي ، او حقوقي چیلینجونو ډگر تود ساتلی وو . د خپلواکو خپرونو دوهم پړاو د ۱۳٦۷ کال څخه بیا تر ۱۳۷۱ لمریز پسرلي پوري پر له پسې وساتل سو .

د دوهم پړاو د خپلواکو خپرونو دوام د هېواد د روڼ اندو او نامتو لیکوالو د مرستي او ملاتړ پرته خپل پایښت او ژوند ته دوام نه سو ورکولای ، یو له هغو روڼ اندو لیکوالو څخه خدای بخښلی ژواک وو چي هم یې په خپلو لیکنو او مقالو د خپلواکو خپرونو ملاتړ کاوه او هم یې د خپلو ارزښتمنو تجربو او لارښونو په مرسته چي د دموکراسۍ د خپلواکو خپرونو د پړاو څخه یې درلودې ، د دوهم پړاو د خپرونو ژوند او هڅو ته توان بخښی.

هغه ورځ مي نه هیرېږي چي مرحوم ژواک د سلام جریدې دفتر ته راغی او په ډیره خوشالي یې د دفتر حاضرینو ته مبارکي و ویل او دا مبارکي د هغه مضمون د خپریدلو له امله وه چي په سلام جریده کي د ( د نجات ورځ او د سیاسي بندیانو برخلیک ) تر نوم لاندي خپور سوی وو . د دې خاطرې د نه هیرېدلو وجه دا ده چي د همدې مضمون د خپریدلو له امله د هغه وخت جمهوري ریاست د مطبوعاتو اداري له خوا د همدې مضمون د سپیناوي په اړه هغه دفتر ته د سلام جریدې مسول چلونکی او د دې لیکني لیکوال غوښتل سوي وه . په لیکنه کي دې ټکي ته اشاره وه چي که د روسي پوځونو ورځ د نجات ورځ وي هغه کسان چي د دې پوځونو د ویستلو لپاره یې مبارزه کول هغوی ته باید د هېواد د ناجیانو او ژغورونکو لقب ورکړل سي . په هر صورت خدای بخښلي ژواک هغه منطق په خپلو خبرو لا غښتلی او د لیکني پر ښتینولي یې د بشپړ تائېد ډاډ څرگند کړ .

زما لپاره د مرحوم ژواک هره وینا د یوه نالوستي کتاب د یوه مهم فصل زده کول وه . او ځانګړي لارښووني به یې زما لپاره د ورځنیو فرهنګي کارو د تر سره کولو په لار کي د لارښوني بشپړ لوست وو . ما ګمان کاوه چي هغه زما د روزلو او هڅولو لپاره یوه ځانګړې پاملرنه کوي ، ځکه به مې زیات وخت د استاد د راتلو لار څارل ، د هغه د راتلو مهال ځرګند نه وو ، خو د خپلو کارونو لپاره به یې مهال ویش د ځان سره درلود . زه به د یوې خوا د استاد راتللو ته په خوشالۍ ستر ګي په لار وم او له بله اړخه به د خپلو تیروتنو د رایادولو انتظار ریږدولم . استاد همداسي وو . هم به یې د تشویق او هڅوني مورال راکړ او هم به یې تیروتنو ته متوجه کولم . دا د خدای بخښلي ژواک د ښوونیز کرکتر ځانګړې میتود وو .

زه د خدای بخښلي ژواک سره د اړیکو پاللو ته ځکه هوډمن او ژمن وم چي د سلام جریدې د ادبي برخي د پر مخ بیولو چاري را سپارل شوي وې ، او زه تر هرچا زیات د مرحوم استاد ژواک لارښونو ته اړ وم . له نیکه مرغه مرحوم ژواک هم د فرهنګي چارو سره زما لیوالتیا ته په پام هڅولم ، او ما ته یې د اړینو لارښونو دریغ نه کاوه . همدا پر له پسې اړیکي او د مرحوم استاد ستر تیا او پر مطبوعاتي کړیو د استاد ژواک معنوي بري د دې اړتیا منځ ته راوړل چي د سلام جریدې او اړوندانو له لوري هغه وستایل سي او ور قدر یې وسي . په دې توګه هغه ته د یوې درنې علمي او ادبي غونډې په ترځ کي چي د دولتي مطبعې اړوند ودانۍ په تالار کي جوړه شوه ، د بدیع الکلام لقب ورکړل شو . او له هغه وروسته به زیاتو خپرونو د بدیع الکلام څېړنمل محمدین ژواک تر نوم لاندي د هغه مرحوم لیکني او مقالې خپرولې .

ما د استاد ژواک څخه د مخامخ پیژند ګلوۍ په لنډ مهال کي زیات څه زده کړل . استاد به په وار وار د خپل مجلس ګډونوالو ته ویل چي : د انسانانو تر منځ توپیر نه سته ، دا کلتور او دستور دی چي یو او بل سره بیلوي او یا یې یو ځای کوي . استاد نه یوازي دا چي دا ویل ، بلکي باور او عمل یې هم همداسي وو . د هیچا سره یې د نفاق لمن نه نیول ، د نورو په شخصي چارو یې کار نه درلود ، خو بل چا ته یې هم حق نه ورکاوه چي د ده په شخصي کارونو ولګیږي . د عامه نظم ملاتړ یې کاوه ، خو د شخصي خپلواکۍ کلک پلوي وو . د کلتور او فرهنګ د ودي او پراختیا سره یې مینه دومره زیاته وه چي هم د ځان قربانۍ ته تیار وو او هم یې نور هېوادوال د فرهنګي پراختیا په لار کي قربانیو منلو ته هڅول . هغه به د فرهنګ داسي وده او پراختیا غوښتل چي د نویو بدلونو او پوهنیزو اوښتونو سره سمون ولري ، د ټولو هغو خرافاتو پر وړاندي یې ښېدریغه ویناوي کولې چي د دود او دستور تر نوم لاندي د پرمختګ خنډ ګرځېدل . زما له انده د مرحوم استاد هغه فکري لید لوی نه یوازي د هغه مهال لپاره بلکي د اوس او راتلونکو نسلونو لپاره د منلو او پاللو وړ دي . زه په دې باور یم چي مرحوم استاد ژواک د افغانستان شتمني وه او په ټول هېواد پوري اړه لري ، ښه به دا وای چي د افغانستان او سني کلتوري چارواکو د استاد لسم تلین نمانځنه کړې وای ، داچي اوسنۍ غونډه د مرحوم استاد د کورنۍ د غړو له خوا او په اروپاکي د کلتوري ټولنو د ګب جرګه ګۍ په مرسته جوړه شوېده ، زه هم د مرحوم استاد د کورنۍ غړو او هم په اروپا کي د کلتوري ټولنو ګډي جرګه ګۍ دې زیار ته په درنه ستر ګه ګورم ، او دعا کوم چي : الله (ج ) مرحوم استاد ژواک ته فردوس جنت نصیب او افغان اولس ته دا توان ورکړي چي د خپلو ویاړونو درنښت پر ځای او د نویو ویاړونو جوګه سي .

ستاسو د پاملرني زیاته مننه

حاجي امین باوري